**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د مودي حکومت د مسلمانانو د ځپلو او له دوی څخه د هندوانو د وېرولو تر منځ خپل تاکنیز کمپاین ته لار هواروي

(ژباړه)

د مودي پوپولیست مجنون دولت چې په ټاکنو کې له خپل برخلیک څخه وېره لري، یو ځل بیا د ټولنې د بېلا بېلو طبقاتو ترمنځ د شک او بدګومانۍ احساسات راپاروي او په دې سره غواړي چې خپل ځان د رایه ورکوونکو د ژغورونکي په توګه مطرح کړي. د جنورۍ له ۲۰مې بیا د همدې میاشتې تر ۲۲مې، د دریو ورځو په ترځ کې د ټول هند پولیسو د رییسانو/عمومي پلټونکو ۵۷م کنفرانس ترسره شو. په یاد کنفرانس کې لومړي وزیر نریندرا مودي، د کورنیو چارو وزیر امیت شاه، د ملي امنیت سلاکار اجیت دووال او د هیواد شاوخوا د پولیسو ۳۵۰ لوړ پوړو افسرانو برخه اخیستې وه. په هېواد کې د ستونزو او ننګونو په اړه ډېرې ویناوې وشوې، له دې ډلې د دوی د «افراطي کېدل، په ځانګړي ډول د مسلمانو ځوانانو » تور و. دا یې د ملي امنیت پر وړاندې یو اصلي ګواښ وباله. د هغو سازمانونو له ډلې چې د افراطي په نامه ډلبندي شوي، یو یې حزب التحریر و. یوه سپارل شوې رساله د دغو سازمانونو پر وړاندې څو اړخیز چلند ته اړتیا په ګوته کوي چې یو یې پر پټو فعالیتونو څارنه او د اطلاعاتي ډیټابیس رامنځ ته کول دي. په دغې رساله کې ادعا شوې چې په هند کې د مذهبي بنسټپالنې وده د لوړې کچې مذهبي عقیدې او د اړیکو عصري وسایلو ته د اسانه لاسرسي له امله ده.

په دې توګه دا څرګنده شوه چې د مودي حکومت او هغه امنیتي چارواکی چې د اسلامپالو پر وړاندې یې له تهمت څخه ډکه رساله ترتیب کړې، غواړي عامه افکار او د هند امنیتي ادارې په مصنوعي اندیښنو بوخت کړي؛ د دوی اصلي موخه د مسلمانانو او هندوانو ترمنځ د تفرقې اور ته لمن وهل دي. دوی د هندوانو تر منځ له مسلمانانو وېره خپروي او په ورته وخت کې مسلمانان ځوروي.

واک ته له رسېدو راهیسې د مودي حکومت د پوپولیستي جنون بدبویي خوره ده. اوس په دې وېره کې دی او نه پوهېږي چې څنګه له هغه کړکیچ څخه راووځي چې خپله یې ځان پخپله پکې ښکېل کړی. دغه له ناورین ډکې پرېکړې د ۲۰۲۱م کال له پیل راهیسې د مودي او د هغه د سلاکارانو د نهیلۍ پر بنسټ وشوې. دوی خلک وهڅول چې خپل عادي ژوند ته دوام ورکړي او فکر وکړي چې د COVID-19 وبا له هند څخه ورکه شوې ده. بیا، د دغې وبا تاریخي زیاتوالی د دې لامل شو چې هند څو میاشتې بې شمېره جنازې پورته کړي. له دې سره حکومت اړ شو چې ټولو ته د غلو او دانو وېشلو پرېکړه وکړي. له هغه وخت راهیسې، د مودي حکومت په دې هڅه

کې دی چې ایا دا مرستې مخکې له هغې بندې کړي چې د هند په اقتصاد کې کسر دومره زیات شي چې بیا یې د جوړولو وړتیا نه لري او که مرستو ته دوام ورکړي چې د خلکو غوسه را ونه پاریږي او د مودي او د هغه د بهارتیا جنتا ګوند پر شهرت منفي اغیز ونه کړي.

حکومت دغه پرېکړه وځنډوله. د غلو دانو او کود د ویشلو لپاره یې د وروستیو نېټو تمدیدولو ته دوام ورکړ چې د ټاکنو تر ضرب الاجل پورې یې ورسوي، خو ویې نه شوی کولی. اوس چې د دغې پرېکړې کولو ته اړ دي، مودي، د بل هر ناکام سیاستوال په څېر خپله همېشنۍ بټن وهي. دی د نژاد پرستۍ او قومي شخړو د تحریک بټن وهي. یعنې د مسلمانانو د ځورولو سیاست پر مخ وړي چې هغوی غبرګون ته اړ کړي او له بلې خوا یې له مسلمانانو څخه د هندوانو د وېرولو کمپاین پیل کړی چې په خپل ځان او خپل حکومت یې راټول کړي.

ډېر د خواشینۍ ځای دی چې د امنیتي ادارو مشران چې د ګواښونو پر وړاندې د خپل هېواد امنیت ساتلو دنده پر غاړه لري؛ د څېړنیزو مقالو په لیکلو او امنیتي سپارښتنو سره یې د هند پر وړاندې اصلي ګواښ ورکړ کړی. د هند او د هند د خلکو پر وړاندې ریښتینی ګواښ نرندرا مودي او د هغه بې بصیرته دولت دی. مودي په زور هند هغې خوا ته کش کوي، چې له امریکا سره د چین پر مهار او د چین پر وړاندې احتمالي جګړه کې ښکېل شي. د مودي اصلي اندېښنه دا ده چې امریکا، هند د خپلې نوې کارخونې په توګه ومني؛ دی داسې انګېري که دا کار وده وکړي نو هند به د ۱۹۷۰مو کلونو په څېر مخ پر ودې هېواد شي!

پر حزب التحریر د ترهګرۍ او افراطیت تور پورې کولو په اړه باید ووایو؛ کوم امنیتي چارواکي چې د نوې ډهلي کنفرانس کې دا تور پور کړ، یا خو یې د څېړنې وړتیا د ماشومانو ده او یا که ځان استاد بولي نو د مودي په څېر د هند له مسلمانانو کرکه لري. د مسلمانانو پر وړاندې د تحریک او پر دوی د تور پورې کولو په اړه باید ووایو چې مودي یې په خپله ړنده کرکه د امریکا په مشرۍ د استعمارګرو پلان پلی کوي. دا مودي ته سیاسي پوښښ ورکوي چې واک ته د اسلام د رسېدو مخه ونیسي، ځکه دی له دې وېرېږي چې پانګوالۍ ځپلي بې وزله خلک د اسلام – چې دوی ته عدالت تضمینوي- له لوري هدایت ونه مومي. بیا به دا خلک د دوی پر وړاندې دربېږي او د اسلام د حاکمیت او ژوند ته د اسلام د بېرته راتګ غوښتنه به کوي.

**په ټوله کې د هند هغو خلکو ته چې فکر کوي او په ځانګړې توګه هغو کسانو ته چې د امنیتي ادارو په سر کې دي:**

مودي او د هغه حکومت د هند او د هند د خلکو راتلونکي ته یو اصلي ګواښ دی. دوی په واک کې د پاتې کېدو لپاره چمتو دي چې ټول هېواد اور ته واچوي. د بي بي سي د هغه مستند فلم په اړه د دوی وروستی غبرګون څه

دی پر سرکونو د ګډوډیو او وینې بهېدنې په اړه یې د مودي د لېواتیا په اړه جوړ کړی و؟ دوی په واک کې د پاتې کېدو لپاره امریکا ته د پوره تسلیمۍ په ګډون د هر کار کولو ته چمتو دي. څکه خو درته وایو، وړاندې تر دې چې ناوخته شي د مودي او د هغه د افراطي حکومت لاسونه ونیسي.

موږ دغه راز تاسو ته بلنه درکوو چې د هغه څه په اړه په اخلاص څېړنه وکړئ چې حزب التحریر مو وربولي. که اسلام د نبوت پر منهج سم پلی شي، لکه څنګه چې حزب التحریر یې د تاسیس لپاره کار کوي، نو دا به فرد او ټولنې دواړو ته خیر وي او دواړه به د ژوند لوړو معیارونو ته ورسوي. په اسلامي دولت کې اتباع سره مساوي دي، د مسلمان او نا مسلمان ترمنځ هیڅ توپیر نشته. اسلام له وړاندې تر زرو کالو زیات پلی شوی؛ چې په ترڅ کې یې د عزت، عفت، پاکوالي، پر کمزورو مهربانۍ او د ټولو اتباعو ترمنځ د عدالت په اړه د مسلمانانو په ځانګړتیاوو کې هیڅ بدلون نه دی راغلی. مسلمانان پوهېږي چې الله سبحانه و تعالی پر دې مکلف کړي چې خلک د کفر او شرک له تیارو څخه د اسلام رڼا او عدالت ته راوباسي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**[الر كِتَابٌ أَنزَلْنَاهُ إِلَيْكَ لِتُخْرِجَ النَّاسَ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ بِإِذْنِ رَبِّهِمْ إِلَى صِرَاطِ الْعَزِيزِ الْحَمِيدِ]**

**ژباړه:** *«الف، لام، را. [ای پیغمبره (صلی الله علیه وسلم)!] دا (قرآن) یو کتاب دی چې پر تا مو د دې لپاره نازل کړی دی چې خلک له تیارو څخه د رڼا په لور راوباسې. د هغو د رب په توفیق سره، د هغه الله تعالی لارې ته چې زورور او په خپل ذات کې په خپله ستایل شوې دي.»* [ابراهیم: ١]

**انجنیر صلاح الدین عضاضه**

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر مشر**

**١٤٤٤ هـ.ق کال، د رجب ١١مه**

**٢٠٢٣م کال، د فبرورۍ ٢مه**

**د صدور ګڼه: ٢٧/ ١٤٤٤**